رسول الله صلى الله عليه وسلم به چې د اودس ماتي ځای ته ننوته، نو ما او زما په څېر يو بل ځوان به ورسره د اوبو کوزه او نيزه ګرځوله، نو په اوبو به يې استنجا کوله

له انس بن مالک رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې: رسول الله صلى الله عليه وسلم به چې د اودس ماتي ځای ته ننوته، نو ما او زما په څېر يو بل ځوان به ورسره د اوبو کوزه او نيزه ګرځوله، نو په اوبو به يې استنجا کوله.

[صحيح دی] [متفق عليه دی]

انس بن مالک رضي الله عنه وايي چې هغه او د هغه په څېر يو بل هلک چې عمر يې ده ته ورته و، د رسول الله صلى الله عليه وسلم پسې ګرځېدل، نو کله به چې د حاجت رفع کولو لپاره ووت، دوي دواړو به ورسره امسا ګرځوله چې لکه د نېزې د نوک په څېر ښاښونه يې درلودل، تر څو يې د ځان لپاره پرده کړي او يا يې د لمانځه پر مهال ستره کړي او دوي به ورسره د اوبو ډک يو کوچنی څرمني لوښی هم ګرځاوه، نو کله به چې رسول الله صلى الله عليه وسلم د حاجت له رفع کولو فارغ شو، نو يو له دوي څخه به هغه لوښی ورکړ او په اوبو به يې استنجا وکړه.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/3030